د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــــاد، حـــج او اوقافـــــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست**

دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد

دمرکز او ولایاتو ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

---

**۲۱/ ربیع الأول /۱۴۴۸ هـ، ق مطابق ۱۳/ سنبله/۱۴۰۵هـ، ش**

# د مسئولینو لخوا د ولس سره په احترام ، ښو اخلاقو او نرمه لهجه چلند کول ، د شریعت مهمه غوښتنه او د اسلامي نظام اصل دی.

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله حمدًا کثیراً طیّبًا مبارکًا فیه کما یحبّ ربّنا ویرضی، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شریك له، وأشهد أنّ محمّدًا عبده ورسوله، صلّی الله علیه وعلی آله وصحبه، وسلّم تسلیمًا کثیراً إلی یوم الدین.

أما بعد: فقد قال الله سبحانه وتعالی:(وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُواْ الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنزَغُ بَيْنَهُمْ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلإِنْسَانِ عَدُوًّا مُّبِينًا).[۱]

**درنو حاضرینو !**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

په هر حال کې د خلکو احترام کول او د هغوی سره ښه اخلاق کارول او د خلکو سره په نرمه لهجه خبرې کول د شریعت مهمه غوښتنه او داسلامي نظام اصل دی.

الحمد لله د افغانستان د اسلامي امارت په نظام کې اکثره مسئولین په دین پوهه او په شریعت اګاه خلک دي او له مراجعینو سره په احترام او ښو اخلاقو چلند کوي ، خو ځینې کسان پیدا کیږي چې د هغوی له برخورد څخه ځینې مراجعین شکایت کوي او وایې چې په فلاني اداره کې فلانی مسئول بد خویه دی ، خلک رټي، خلکو ته ناکاره الفاظ کاروي او ناوړه وضعیت کوي، چې دا کار نه یواځې داچې د شریعت مخالف کار دی بلکې د اسلامي امارت او نظام د اصولو مخالف عمل هم دی.

دولتي مسئولین که هغه مامور دی، که مدیر دی، که آمر دی، که رئیس دی او یا بل چارواکی ، د ملکي چارو مسئولین دي او که د امنیتي چاور مسئولین، پر مونږ ټولو باندې لازمه ده چې د خلکو احترام وکړو او په ښو اخلاقو او نرمه لهجه ورسره چلند وکړو.

داد الله جل جلاله حکم دی چې د ولس سره په نرمه لهجه او د مهربانۍ څخه په ډکه لهجه خبره وکړو او خلکو ته ښایسته خبره وکړو لکه څنګه چې الله جل جلاله فرمایلي دي:( وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا).[۲] ترجمه:او ووایی خلقو ته (ښې خوږې )ښایسته خبرې.

---

[۱] -الاسراء:(۵۳)

[۲] - البقرة:(۸۳)

حافظ ابن کثیر رحمه الله ددې آیت په تفسیر کې لیکي: أي: كلموهم طيبًا، ولينُوا لهم جانبًا، ويدخل في ذلك الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر بالمعروف، كما قال الحسن البصري في قوله: { وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا } فالحُسْن من القول: يأمُر بالمعروف وينهى عن المنكر، ويحلم، ويعفو، ويصفح).(۳)

ژباړه: یعنې خبرې وکړئ له خلکو سره خوږې خبرې او په نرمه لهجه ورسره سلوک وکړئ.او په دې کې "د نیکیو امر کول او د بدیو څخه راګرځول په ښه توګه" داخل دي لکه حسن بصري رحمه الله چې وایي، ښایسته خبره داده چې په نیکۍ ورته امر وکړي او له بدیو څخه یې رامنع کړي او له خلکو سره حلم او بردباري وکړي او هغوی ته عفوه وکړي او د هغوی له خطاګانو مخ واړوي . او مناسب دي چې د خلکو ته ښایسته خبرې وکړي څکه چې لومړی یې ورته امر وکړ چې د خلکو سره عملا نیکي وکړئ او بیا یې ورته امر وکړ چې خلکو ته ښاسته خبرې وکړئ، نو الله د خلکو سره په عمل او قول کې نیکي کول راجمع کړل.

په یوبل مبارک آیت کې الله تعالی مونږ او تاسې ته امر کړی دی چې خلکو ته هغه خبره وکړو کومه چې تر ټولو ښایسته وي.

الله تعالی فرمایلي دي: (وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُواْ الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ).(٤)

ترجمه:او ووایه ( ای محمده!) بنده ګانو زما ته چې وایي دی هغه خبرې چې ډېرې غوره دي.

ممکن دولتي مسئولین که هغه مامور دی، که مدیر دی، که آمر دی، که رئیس دی ، هغه که په ملکي چارو کې مسئولیت لري او که په امنیتي چاور کې مسئولیت لري ، که چیرې دوی د ناپوهانو او جاهلانو سره مخ شي، مسئولینو ته په کار ده چې د شریعت غوښتنې په نظر کې ونیسي او له هغوی سره جاهلانه سلوک ونه کړي ، ولو که د هغوی څخه د جفا حرکت ووینې او یا ورڅخه ناشایسته خبرې واوري ، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:(وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا).(٥)

ترجمه: او کله چې خطاب کوي له دوی سره جاهلان ناپوهان نو وایي ( ورته په ځواب کې سلام ،خبره) سالمه (له ګناه او ضرره).

حافظ ابن کثیر ددې آیت په تفسیر کې لیکي: (أي: إذا سَفه عليهم الجهال بالسّيئ، لم يقابلوهم عليه بمثله، بل يعفون ويصفحون، ولا يقولون إلا خيرًا).(٦)
ژباړه: یعنې که ددوی سره احمقان او جاهلان په بدۍ سره عمل وکړي ، نو دوی دې د هغوی سره بالمثل بد سلوک نه کوي، بلکې عفوه دې ورته وکړي او مخ دې ورڅخه واړوي او نه دې وایې مګر د خیر خبره.

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی د ناپوهانو سره د برخورد په اړه فرمایلي دي: (خُذِ العَفْوَ وَأْمُرْ بِالعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الجَاهِلِينَ).(۷)

ترجمه: ونیسه (ای محمده! عادت د) عفوې کولو او امر (حکم) وکړه په معروف (نېکو کارونو) سره او مخ وګرځوه (په څنګ شه) د جاهلانو (ناپوهانو لیونیانو) څخه.

---

[۳] - تفسیر ابن کثیر / دار طیبة (۱ /۳۱۷)
[٤] - الإسراء: (٥٣)
[٥] -الفرقان:(٦٣)
[٦] - تفسیر ابن کثیر / دار طیبة (٦ /۱۲۲)
[۷] - الأعراف: (۱۹۹)

امام قرطبي رحمه الله ددې آیت په تفسیر کې لیکي: (خذ العفو) دخل فيه صلة القاطعين، والعفو عن المذنبين، والرفق بالمؤمنين، وغير ذلك من أخلاق المطيعين. وفي قوله (وأعرض عن الجاهلين) الحض على التعلق بالعلم، والإعراض عن أهل الظلم، والتنزه عن منازعة السفهاء، ومساواة الجهلة الأغبياء.).[٨]

ژباړه: په دې امر (خذ العفو) کي داخل شو صله رحمي ساتل د هغه چا سره چې صله رحمي قطع کوي، او گناهگارانو ته عفوه کول او په مسلمانو مهرباني کول شامل دي او نور د اطاعت کوونکو اخلاق شامل دي.

او په دې آیت کې (وأعرض عن الجاهلين) ترغیب دی د علم سره د تعلق ساتلو او د ظالمانو څخه مخ اړول او ځان ساتل د احمقانو سره د منازعې څخه او ځان ساتل د برابرولو د غبیانو سره .

الله تعالی عفوه کوونکو صفت کړی دی او مونږ لره په کار دي چې خپل قهر او غضب کنترول کړو. الله جل جلاله فرمایلي دي: (وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ). [٩]

ترجمه:او چې زغمونکي د قهر دي (سره له قدرته) او عفوه کوونکي دي له خلقو (چې پرې وکړي زیاتی او ظلم) او الله خوښوي نیکي کوونکي.

راځئ چې د ناوړه او بدو خلکو سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم تعامل مطالعه کړو چې هغه به د ناوړه او بدو خلکو سره څه ډول تعامل کولو . په یو روایت کې راځي.  عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَجُلًا اسْتَأْذَنَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا رَآهُ قَالَ بِئْسَ أَخُو الْعَشِيرَةِ وَبِئْسَ ابْنُ الْعَشِيرَةِ فَلَمَّا جَلَسَ تَطَلَّقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي وَجْهِهِ وَانْبَسَطَ إِلَيْهِ فَلَمَّا انْطَلَقَ الرَّجُلُ قَالَتْ لَهُ عَائِشَةُ يَا رَسُولَ اللَّهِ حِينَ رَأَيْتَ الرَّجُلَ قُلْتَ لَهُ كَذَا وَكَذَا ثُمَّ تَطَلَّقْتَ فِي وَجْهِهِ وَانْبَسَطْتَ إِلَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَائِشَةُ مَتَى عَهِدْتِنِي فَحَّاشًا إِنَّ شَرَّ النَّاسِ عِنْدَ اللَّهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ تَرَكَهُ النَّاسُ اتِّقَاءَ شَرِّهِ».[١٠]

ژباړه: د حضرت عائشه رضي الله عنها څخه روایت دی ، هغه وایې چې یو سړي اجازه وغوښتله د نبي علیه السلام کله چې نبي علیه السلام هغه سړی ولیدلو ، نو وه فرمایل: د قبیلې بد ورور دی او د قبیلې بد زوی دی.کله چې کیناستلو ،نو نبي علیه السلام د هغه په مخ ورته خپله تنده پراخه کړه او خپل وضعیت یې ورته پراخه کړ . نو کله چې هغه سړی ولاړی نو حضرت عایشه رضي الله عنها وفرمایل ای د الله رسوله! کله چې تا دا سړی ولیدی نو تا داسي او داسي وویل بیا دي تنده ورته پراخه کړه او خپل وضعیت دي ورته پراخ کړلو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل ای عائشې زه دې کله لیدلې یم چې فحش مې ویلي وي؟ بیشکه بدترین د خلکو څخه د الله تعالی په وړاندې د قیامت په ورځې د ځای په اعتبار سره هغه څوک دي چې خلک یې پریږدي د هغه د شر د ویرې څخه.

---

٨ - تفسير القرطبي (٧/ ٣٤٤)

٩ -آل عمران : ( ١٣٤)

١٠ - صحيح البخاري ت(١٥ /٢٢٥)

په دې حديث شريف کې زمونږ لپاره لوی درس پروت دی او رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې حديث کې مونږ ته لويه قاعده را وښودله او هغه داچې مونږ بايد د خلکو سره په خپلو ښو خويونو او ښو اخلاقو تعامل وکړو او مونږ بايد د خلکو سره دهغوی په بدو اخلاقو تعامل ونکړو.

دولتي مسئولين په اسلامي نظام کې بايد داسلام د عالي اخلاقو مظاهره وکړي او داسلامي نظام د اصولو تمثيل وکړي او دا کار د ځان لپاره په ضُعف تعبير نکړي او ځانونه داسې جوړ کړي چې ددوی له ښو اخلاقو او نيک تعامل څخه مراجعين متأثره شي.

الله جل جلاله ددښمن سره هم د نرمې لهجې په کارولو امر کړی دی، ځکه نرمه لهجه د هدايت سبب ګرځي او سخته ژبه کارول د نفرت سبب ګرځي،لکه څرنکه چې الله جل جلاله موسی عليه السلام ته امرکړی ؤ.(اذْهَبَا إِلَى فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَى* فَقُولا لَهُ قَوْلا لَيِّنًا لَعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَى).[11]

ترجمه: لاړ شئ (تاسي دواړه) فرعون ته ، بيشکه چې دی باغي شوی دی په دعوی د الوهيت سره. پس ووايئ ده ته خبره پسته ښايیږي چې دی پند واخلي (که ستا رسالت ورته محقق شي) يا وويريږي (له الله که متوهم شي).

يعنې د هغه دواړه په نرمه لهجه خبرې وکړې چې په کې نفرت او غضب پروت نه وي، شايد هغه ستاسو له خبرو پند واخلي او له کفر څخه راوګرځي او يا وويريږي د عذاب څخه که چيرې په کفر کې پاتې شي. همدا د الله د اولياوو د تعامل نمونه ده.

مسئولينو او عامو ولس ته په کار ده چې د خلکو احترام وکړي او د خلکو سره په ښو اخلاقو چلند وکړي. په حديث شريف کې راځي. عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« اتَّقِ اللَّهِ حَيْثُمَا كُنْتَ وَأَتْبِعْ السَّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ».[12]

ژباړه: د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: له الله تعالی څخه وويريږه ته چې هرچيرې وې او په بدی پسې نيکي کوه (ځکه) نيکي بدي له منځه وړي او تعامل کوه له خلکو سره په ښايسته اخلاقو سره.

که چيرې کوم مراجع ناپوهه وي يا يې په مزاج کې سختي وي ، نو مسئولين بايد د هغه ناپوهي او بې ځايه حرکت تحمل کړي او د رسول الله صلى الله عليه وسلم تګلاره خپله کړي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم من حيث د مسلمانانو د چارو مدبر او سمبالوونکی د هغه چا سره په خندا برخورد وکړ چې د نبي عليه السلام څادر مبارک يې راونيولو او هغه يې راکش کړ.

په حديث شريف کې راځي. عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنْتُ أَمْشِى مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَعَلَيْهِ رِدَاءٌ نَجْرَانِىٌّ غَلِيظُ الْحَاشِيَةِ فَأَدْرَكَهُ أَعْرَابِىٌّ فَجَبَذَهُ بِرِدَائِهِ جَبْذَةً شَدِيدَةً نَظَرْتُ إِلَى صَفْحَةِ عُنُقِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَقَدْ أَثَّرَتْ بِهَا حَاشِيَةُ الرِّدَاءِ مِنْ شِدَّةِ جَبْذَتِهِ ثُمَّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ مُرْ لِى مِنْ مَالِ اللَّهِ الَّذِى عِنْدَكَ. فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَضَحِكَ ثُمَّ أَمَرَ لَهُ بِعَطَاءٍ».[13]

---

[11] -طه: (٤٤)

[12] - سنن الترمذي (٤/ ٣٥٥)

[13] - صحيح البخاري ت (١٥/ ٣٠٨)، صحيح مسلم (٣/ ١٠٣)

ژباړه: د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایي چې زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره پیاده روان وم او د رسول صلی الله علیه وسلم په ځان باندې یو نجراني څادر ؤ چې ډبلې غاړې یې لرلې، یو بانده چې ورته راغی او رسول الله صلی الله علیه وسلم یې له څادر څخه په ډیر شدت سره راکش کړ ، ما د رسول الله صلی الله غاړې مبارکې ته وکتل چې د څادر څنډو په کې نښې جوړې کړی د ډیر شدید راښکلو له وجې نه ، بیا هغه بانده چي وویل ای محمده! (صلی الله علیه وسلم ) ماته د الله تعالی د هغه مال په راکړه امر وکړه چې له تاسره دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه بانده چې ته وکتل او وه یې خندل او بیا یې هغه ته د عطاء په ورکړه (مسئولینو ته ) امر وکړ.

په اسلامې شریعت کې مونږ ته ویل شوي دې چې که چیرې د مسلمان ورور سره دې نور څه د وسه نه کیږي ، نو په ورین تندي او په نرمه لهجه د هغه سره خبرې کول ستا لپاره صدقه ده.کله چې مسئولین له ولس سره مخامخ کیږي باید په تبسم او خندا سره ورسره مخاخ شي او ځان د تکبر څخه وساتي او ټنده له تریو والي څخه وساتي. په حدیث شریف کې راځي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:( اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ).(١٤)

ژباړه: ځانونه وساتئ له اور څخه (د جهنم له اور څخه) ولو که د نیمې خرما په ورکولو سره وي او که چیرې نیمه خرما هم درسره نه وي ، نو ځانونه وساتئ له اور څخه په خوږې خبرې سره.

په یو بل حدیث شریف کې راځي.عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:( تَبَسُّمُكَ فِي وَجْهِ أَخِيكَ لَكَ صَدَقَةٌ».(١٥)

ژباړه: د ابوذر رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تبسم او خندا ستا د خپل ورور په مخ کې ستا لپاره صدقه ده.

له ولس سره په کارونو کې نرمي کول او پر هغوی مهرباني کول ددین له غوښتنو څخه ده ، همدا وجه ده چې محدثینو د احادیثو په کتابونو کې د( باب الرفق) د نرمۍ کولو بابونه ایښي دي امام بخاري په صحیح البخاري کې لیکلي دي:(بَاب الرِّفْقِ فِي الْأَمْرِ كُلِّهِ) دا باب دی په استحباب د مهربانۍ او نرمۍ کولو کې په ټولو امورو او چارو کې . او بیا ددې باب لاندې دا حدیث شریف ذکر کړی دی: عن عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ دَخَلَ رَهْطٌ مِنْ الْيَهُودِ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا السَّامُ عَلَيْكُمْ قَالَتْ عَائِشَةُ فَفَهِمْتُهَا فَقُلْتُ وَعَلَيْكُمْ السَّامُ وَاللَّعْنَةُ قَالَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« مَهْلًا يَا عَائِشَةُ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الرِّفْقَ فِي الْأَمْرِ كُلِّهِ».(١٦)

ژباړه: د حضرت عروه بن الزبیر رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې حضرت عائشې د نبي علیه السلام کور وداني وویل: یوه ډله له یهودو پر رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې ور داخل شول او هغوی نبي علیه السلام ته وویل:( السام علیکم)یعنې مرگ دې وي تاسو لره. عایشه رضي الله عنها وایې چې زه ورباندې پوهه شوم چې دوی بد دعایې وکړه نبي علیه السلام ته نو ماورته وویل: چې په تاسو دې مرگ وي او لعنت دې وي. عائشه رضي الله عنها وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: صبر وکړه ای عائشې! بیشکه الله تعالی نرمي خوښوي په هر کار کې.د مسئولینو لخوا خلکو سره په مینه ، نرمي او مهربانۍ سره چال چلند د ولس او نظام ترمنځ نږدیوالی راولي او په کار کې برکت اچوي .

---

١٤ - صحیح البخاري ت (١٥ /٢١٣)

١٥ - سنن الترمذي (٤ /٣٣٩)

١٦ - صحیح البخاري ت (١٥ /٢١٥)

په حديث شريف کې راځي. عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « إِنَّ الرِّفْقَ لاَ يَكُونُ فِى شَىْءٍ إِلاَّ زَانَهُ وَلاَ يُنْزَعُ مِنْ شَىْءٍ إِلاَّ شَانَهُ ». [١٧]

ژباړه : له بی بی عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی، هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : نرمي په هيڅ کار کې نه وي، مگر هغه ته ښايست وربښي او له کوم شي څخه نه وځي مگر هغه بدرنگوي.

نرم خويه او د خلکو په مقابل کې متواضع انسان جهنم ته نه داخليږي.په حديث شريف کې راځي. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِمَنْ يَحْرُمُ عَلَى النَّارِ أَوْ بِمَنْ تَحْرُمُ عَلَيْهِ النَّارُ عَلَى كُلِّ قَرِيبٍ هَيِّنٍ سَهْلٍ».[١٨]

ژباړه : له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : آيا تاسوته له هغه چا خبر درکړم چې دهغه بدن په اور حرام دی ؟ يا د دوزخ اور په ده حرام وي ؟ د دوزخ اور په هر نرمخويه ،آسانی کوونکي او غوړيدلې تندې والا شخص باندې حرام دی .

د ولس سره نرم خويي په کار ده ځکه څوک چې نرم خويه نه وي په هغه کې هيڅ خير نشته. په حديث شريف کې راځي.

عَنْ جَرِيرٍ عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « مَنْ يُحْرَمِ الرِّفْقَ يُحْرَمِ الْخَيْرَ ».[١٩]

ژباړه: څوک چې د نرم خوی او مهربانی څخه محروم شوی وي، په حقيقت کې هغه د ټول خير څخه محروم شوی دی.

مسئولينو او هر مسلمان ته په کار ده چې بل مسلمان ته له بد زبانې، فحش ويلو او د خلکو له رټلو څخه خپله ژبه وساتي.

مسلمانانو او مسئولينو ته په کار ده چې ځان له بد زبانی څخه وساتي. په حديث شريف کې راځي.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ وَلَا اللَّعَّانِ وَلَا الْفَاحِشِ وَلَا الْبَذِيءِ».[٢٠]

ژباړه: د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: مؤمن به نه وي طعن او لعنت ويونکی او نه به وي مؤمن فحش ويونکی (يا کنځل کوونکی) او نه به وي مؤمن بده وينا ويونکی.

مسئولينو ته په کار ده چې د ولس او مراجعينو سره د شخړو او جگړو څخه ځانونه وساتي، ځکه شخړه، جنگ او جدل کول، ولو که په حق باندې هم وي پريښودل يې لوی فضيلت لري.

په حديث شريف کې راځي. عَنْ أَبِى أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « أَنَا زَعِيمٌ بِبَيْتٍ فِى رَبَضِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْمِرَاءَ وَإِنْ كَانَ مُحِقًّا وَبِبَيْتٍ فِى وَسَطِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْكَذِبَ وَإِنْ كَانَ مَازِحًا وَبِبَيْتٍ فِى أَعْلَى الْجَنَّةِ لِمَنْ حَسَّنَ خُلُقَهُ ».[٢١]

---

[١٧] - صحيح مسلم (٨/ ٢٢)

[١٨] - سنن الترمذي (٤/ ٦٥٤)

[١٩] - صحيح مسلم (٨/ ٢٢)

[٢٠] - سنن الترمذي (٤/ ٣٥٠)، مسند أبي يعلى (٩/ ٢٠)

[٢١]- سنن أبى داود-ن (٤ /٤٠٠)، سنن الترمذي (٤/ ٣٥٨)، سنن النسائي (٦/ ٢١)

ژباړه: د حضرت ابو أُمامه رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زه ضامن یم په کونجونو د جنت کې د یوه کور د هغه چا لپاره چې جدال او شخړه کول پریږدي ولو که په حقه باندې هم وي او (زه ضامن یم) د کور په منځ د جنت کې د هغه چا لپاره چاچې درواغ ویل پریښودل ولوکه دټوکې په ډول هم وي او(زه ضامن یم)دکورپه سردجنت کې دهغه چالپاره چا چې ښایسته کړل خپل اخلاق.

مسئولینو ته په کار ده چې تواضع اختیار کړي او ځان د منصب په وجه په ولس لوړ ونه ګڼي. په حدیث شریف کې راځي.عَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ قَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- ذَاتَ يَوْمٍ خَطِيبًا فَقَالَ:« وَإِنَّ اللَّهَ أَوْحَى إِلَىَّ أَنْ تَوَاضَعُوا حَتَّى لاَ يَفْخَرَ أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ وَلاَ يَبْغِى أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ ».(٢٢)

ژباړه: د حضرت عیاض بن حِمار رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې ودریده زمونږ په منځ کې رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ په داسې حال کې چې خطبه یې ویله او داسې یې وه فرمایل: او بیشکه الله تعالی وحي کړې ده ماته دا چې تواضع وکړئ، دې لپاره چې یو کس په بل کس باندې ځان لوی ونه ګڼي او ظلم ونه کړي یو کس په بل کس باندې .

مسئولین باید د خلکو په مقابل کې د زبان درازی څخه ځانونه وساتي.ځکه زبان درازي مذموم عمل دی.په حدیث شریف کې راځي.عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ مِنْ أَحَبِّكُمْ إِلَيَّ وَأَقْرَبِكُمْ مِنِّي مَجْلِسًا يَوْمَ القِيَامَةِ أَحَاسِنَكُمْ أَخْلَاقًا، وَإِنَّ أَبْغَضَكُمْ إِلَيَّ وَأَبْعَدَكُمْ مِنِّي مَجْلِسًا يَوْمَ القِيَامَةِ الثَّرْثَارُونَ وَالمُتَشَدِّقُونَ وَالمُتَفَيْهِقُونَ».(٢٣)

ژباړه: د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه ستاسې څخه ډیر خوښ ماته او ستاسې څخه ډیر نږدې ماته په ناسته کې د قیامت په ورځ هغه ستاسې د ډیرو ښو اخلاقو والا به وي او ستاسې څخه ډیر بد ماته او ستاسې څخه ډیر لرې له ماڅخه په ناسته د قیامت په ورځ هغه ډیري خبرې کوونکي کسان به وي او هغه کسان به وي چې په تکلف خبرې کوي او په خبرو کې زبان درازي کوي او هغه متکبره خلک به وي.

علامه ابن حجر هیثمي د( والمتشدقون) په معنا کې لیکي: ( أي المتطاولون على الناس في الكلام ).(٢٤)

ژباړه: او متشدقون یعنې هغه زبان درازي کوونکي په خلکو باندې په خبرو کې.

حضرت ابو درداء رضي الله عنه یوه زبان درازه ښځه ولیده ، نو داسې وفرمایل:(لو كانت هذه خرساء، كان خيراً لها).(٢٥)

ژباړه: که چیرې دا ښځه په خوله ګونګه وای دا به د هغې لپاره ښه وه.

**أقولُ قولي هذا ، وأستغفرُ اللهَ العظيمَ لي ولكم ولسائرِ المسلمينَ من كلِّ ذنبٍ ، إنَّه هو الغفورُ الرحيمُ.**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته**

---

٢٢ - صحيح مسلم (٨ /١٦٠)، سنن أبى داود-ن (٤ /٤٢٥)

٢٣ - سنن الترمذي ت شاكر (٤ /٣٧٠)

٢٤ - الفتاوى الحديثية لابن حجر الهيتمي (ص: ١٠٥)

٢٥ - الإحياء:( ٣/ ١٢٥)